DAILY
اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۴۵
شماره مسلسل ۹۱۲
پنجشنبه ۲۹ جدی ۱۳۸۴ هش
۱۹ ذوالحجه ۱۴۲۶ هـ ق
19 January, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

دوه قاضیان له دندو لیرې شول

دهیواد ولسمشر حامد کرزی دوه قاضیان له خپلو دندو څخه ګوښه کړي دي ددې کسانو دمرکز د استناف دعامه امنیت محکمې چارواکي وایی ددیوان مشر او دغور چې دغو قاضیانو له ولایت دټولو د قانون څخه دسر غړونی. ولسوالی قاضیان دي. په تور له دندو څخه ګوښه کړی شوی دي تورن کسان دمرکز د کړي دي دستري استناف دعامه امنیت محکمې چارواکي وایی ددیوان مشر او دغور چې دغو قاضیانو له ولایت دټولو لـك د قانون څخه دسر غړونی. ولسوالی قاضیان دي.

د ټولو او بشپړ ګټي خدای په نامه

سرمقاله

اولس پرونیو ترخو پیښو ته مجبوراً انتظار باسي!

دطالبانو دواکمنی له ړنګیدو وروسته چې ددولت او اولس ترمنځ رامنځته شوي واټن په خپله غیر کي طالبانو ته هر کلی ووایه او په پای کې دبیلابیلو تنظیمونو زیاتو قوماندانانو او ملکی مسوولینو له طالبانو پاتې څوکی دبهرنیو ځواکونو په مرسته په غنیمت سره نیولی او اوس چې ګورو په پوځی او ملکی اکثریت څوکیو کې او آن چې په پارلمان کې دبیلابیلو تنظیمونو اړوند کسان په قدرت کې دی خو ددغو څلور کلونو په اوږدو کې دولت په دې ونه توانید چې اولس ځان ته نږدې کړی دولت خپلې ټولې برياوې دولسمشری په ټاکلو، اساسی قانون، ملی شورا او د انجوګانو په واسطه ځینې رغاونیزو کارونو کې خلاصه کوی حال دا چې د وخت په تناسب نه یوازې دا چې کافی نه دی بلکې دخلکو په معیشت ، بوختیا ، سوکالی او سراسری امنیت کې داسې بدلونونه نه دی راغلی چې ملت پرې قانع شي.

ورځ په ورځ سراسری امن خرابیږي د ازاد بازار په نوم دنرخونو لوړیدل، بډې (رشوت) د کرایو لوړوالی، دقانون او قانونیت له منځه تنګ غلا او چور، سرانه کم عایدات د بهرنیو او کورنیو ارتباطاتو په اساس ټاکنې او په محدود چوکات کې بدلونی رابدلونې، دغیر مسلکی اشخاصو ټاکنې بې شمیره سلاکاران او دهغوی دالری امتیازات دا او داسې نورې ناخوالی ددې سبب شوې چې اولس ناراضه شي او داولس له نارضایتی څخه طالبان غواړي ددویم ځل بیا دپرون په څیر استفاده وکړي ددولت په ټولو نیمګړتیاوو باندې اولس قانع او پرمخ لاړشي. خلك له دولت څخه ناراضه دی او تر دولت دطالبانو په پلوی دهغوی ددیکتاتورانه حرکاتو له شته والی سره سره چې دترقی او دموکراسی مخه نیسي ولاړ ښکاري او یا خو بې توپیره شوی دی ځکه چې طالبان په ولسونو کې ازاد ګرزی لاړې ورته ښي او مرستې ورسره کوی چې دا کار دکورنیو او بهرنیو ځواکونو له شته والی سره سره دهیواد لپاره خطرناك زنګونه دی.

که چیرې په دولت کې اړوند مسوولین ملی احساس پیدا نه کړی او ملی ګټې او قانونیت په پام کې ونه نیسي خلك خپلې غیرې ته راوړاندې نه کړی ددې اندیښنه رامنځته کیدونکی ده چې دغه واټن به نور هم زیات شي او دغه نسبی بریاوې به هم په سیند لاهو شي او د پرونیو نه منونکی ترخو پیښو راتګ ته به ولس مجبوراً انتظار باسی.

دمالیې وزیر جاپان ته لاړ

د دمالیې وزیر انور الحق احدی جاپان ته په یوه سفر تللی دی انور الحق احدی به په دغه سفر کې جاپانی چارواکی وهڅوي چې دلندن په کنفرانس کې له افغانستان سره نورې مرستې وکړی ۴مخ

در کنفرانس لندن توافقنامه یی به امضاء میرسد

قرار است توافقنامه بین دولت افغانستان ، سازمان ملل متحد و بیشتر از ۷۰ کشور با سازمان های بین المللی در لندن به امضاء برسد این توافقنامه بر مسایل امنیت، حکومت داری حاکمیت قانون، حقوق بشر انکشاف اقتصادي و اجتماعي دراز مدت متمرکز می باشد این کنفرانس قرار است به تاریخ ۲۱ جنوری سال جاری میلادی در پایتخت انگلستان برای دو روز دوام نماید ریاست ان بطور مشترک بر عهده افغانستان انگلیستان و سازمان ملل متحد خواهد بود ص۴

په سپین بولدک کې د بریدونو پرضد مظاهره

د کندهار د سپین بولدک په ولسوالی کې د وروستي ځانمرګي برید پرضد په سلګونو خلکو په یوه احتجاجي لاریون کې برخه اخستې. د دوشنبې په ورځ په دغه ولسوالي کې چې د پاکستان پولو ته ورځیرمه پرته ده په یوه ځانمرګي برید کې له ۲۰ زیات کسان ووژل شول او تر دې زیات نور ټپیان شوي. ۴مخ

په پکتیکا کې دښوونځیو بیا رغاونه شوې ده

دپکتیکا ولایت دیوشمیر ښوونځیو دبیا رغاونې کارونه بشپړ شوی دی ددغه ولایت چارواکي وایی چې دژمې په تیریدو سره به ددغه ولایت په نورو ولسوالیو کې هم یو شمیر ښوونځي ورغوی دغه ښوونځي دپکتیکا ولایت متاخان ، سر روضه، ارګون او نورو ولسوالیو کې ځینې له سره جوړ شوی ۴مخ

په هرات کې دمخدره مواد نیول

دهرات امنیتی مسوولینو په لس ګونو کیلو ګرامه افین دقاچاق کوونکو څخه چې ایران ته یې وړل نیولی دی.

دهرات دامنیتی قوماندان لوی پاسوال محمد ایوب سالنګی تیره ورځ په یوه خبری غونډه کې وویل: ۴مخ

دزدان مسلح دو تن را مجروح کردند

در اثر حمله مردان مسلح ناشناس بالای یک موتر حامل تاجران ولایت قندهار در مربوطات ولایت هرات دوتن از مسافرین مجروح شده اند یک تن ازین تاجران ادعاکرده است که دزدان مسلح درنتیجه این حمله موتر و یک مقدار پول را نیز با خود برده اند. ص۴

مقامات برکنار شده مورد بازجویی قرار گرفته اند

وزیر مبارزه با مواد مخدر میگوید که در صورت اثبات اتهام بالای مقامات برکنار شده ولایت بلخ انان باید بر اساس قانون مبارزه با مواد مخدر مجازات شوند این افراد چندی پیش از سوی والی بلخ به اتهام همکاری با قاچاقچیان مواد مخدر از پست های شان برکنار شده بودند عطا محمد نور والی ولایت بلخ بهBBC گفته است. ص۴

له کډوالو سره مرسته

په خوست کې نږدې میشتو هغو ۹ سوه کډوالو کورنیو ته چې له پاکستان څخه راستنې شوی وی مرسته ویشل شوی دی دغه مرسته په خوست کې دولایتی د بیارغاونې د ډلې یا PRT له خوا په هغه ولایت کې دکډوالو دچارو له ریاست سره شوې چې اړو کسانو باندې ویشل شوی دی.

اردوی بریتانیا با طالبان و القاعده روبرو می شود

واحدهای اعزامی ناتو به جنوب افغانستان که قرار است به فرماندهی بریتانیا جانشین واحدهای امریکایی شوند با عملیات شورشیان مخالف دولت افغانستان مواجه خواهند بود.

ویکتوریا نولاند ، نماینده ایالات متحده در سازمان پیمان اتلانتیک شمالی - ناتو - گفته است که واحدهای جدید باید آمادگی مقابله با تشدید حملات شورشیان وابسته به طالبان و القاعده را داشته باشند و لازم است ناتو اجرای عملیات مقابله با شورش مسلحانه را مورد بررسی جدی قرار دهد. به گفته خانم نولاند ، دست زدن به چنین عملیاتی مستلزم به کارگیری واحدهای نظامی قوی و مقاوم است. ص۴

پیوسته به گذشته

تروریزم بین المللی و افراط گرایی

مترجم: دوکتور عبدالواحد خرم

به این معني ترور که به زور آوري تکیه می کند یگانه چیز جدید و اصولي را پیشنهاد نمي دارد.

چیزي نو، خاص و فرق کننده از دیگر چیزهاي در ترور وابسته به زور اوری در آن است که ترور زور آوري رایگانه واسطه بدست آوردن مقاصد خود مي داند. مراجعه به وسیله زور آوري در داخل فعالیت تروریست به درک زور آوري همچون ماهیت اصلی ترور می رساند. زور آوری منطقاً سرکوب نمودن آزادی اندیشه و آزادی فکر است. مهم نیست که در عمل زور آوری سرکوب می گردد شخص مستقل گروه انسانها یا درمجموع اجتماعی.

ازاین جهت عقیده زور آوری همه وقت بدبختي است، زیرا آن امکانیت به طور گوناگون بروز نموده، ماهیت انسان وامکانات پیدایش او را محدود ساخته، کیفیت زنده گي انسان را پایین مي آورد.

ادیان جهان نسبت زور آوري مناسبات خیلي منفي داشته آنرا یکي از اشکال تجاوز دست درازي به ماهیت زماني دنیوي، معنوي وانساني حساب مي نمایند فقط یک شکل زور آوري ا ست که از طرف دین امکان پذ یر دانسته مي شود، آنهم زور آوري آدم در بالاي نفس گنهگارش.

کوشش انسان براي نزدیک شدن به خداوند (ج) است. این ظهوریت بدین عیسوي جاي خود را داشته و در دین مقدس اسلام به اندازه بزرگ به چشم مي رسد که مثال روشن آن جهاد بزرگ بالاي نفس است. فقط همین گونه زور آوري از جانب ادیان جهان اعتراف گردیده است.

دیگر همه اشکال زور آوري مخصوصا مطالب ایکه در ضدیت اجتماعي مورد بحث قرار مي گیرد، رد کرده مي شوند.

از خود همین معلوم مي گردد که اسلام نمي تواند سر چشمه تروریزم باشد.

بلی، بدون در نظر داشت اینکه تروریزم امروزه در شکل های خیلی عمومی آن پیوسته به (عامل اسلامی) پنداشته می شود و در این مورد وسایل اطلاعات جمعی نیز سهم بزرگ می گیرند، مثلاً در برنامه تلویزیونی روسیه که بعد از یک سال پس از عملیات ضد تروریستی امریکا، برنامه ای بخش گردید که به اشتراک شرق شناسان بود، آنجا در صحبت های خود چنین ابراز داشتند که ریشه های تروریزم امروزه در فعالیت، پیروان حسن صباح، پیر عالمات که به مقابل صلیب داران هزار سال قبل عملیات می گذرانیدند، جستجو کردن لازم است، چنانکه بیشتر اشاره شد، اسلام به قطار ادیان نجات بخش داخل می شود از این رو آن دینی غیر زور آوری است، محض برای همین هم اسلام نمی تواند سبب گری تروریزم باشد اما هنگامی که اسلام به سیاست آمیخته می گردد، بهادهی شکل دیگر می گیرد، زیرا چنانکه معلوم است سیاست چیزی دغل می باشد. گر چندی بعضی نازیکی ها و ظرافت نیز دارد، طبق قاعده هائی که در سیاست رواج یافته، باید دشمن را شناخت . اگر شناسایی ها هر چند مبهم باشد، اما شناخته شدن در شکل و مفهوم درست است. خود سیاست مداران وضعیت بسیار عملی را دوست ندارند، زیرا به آنها درست حل و فصل نمودن دشوار است. برای همین روندهایی مرکبی جهانی امروزه بدرجه استدلال ساده و ابتدایی فرا آورده شده، برای حل آنها همین طور طرح های ساده و ابتدایی پیشنهاد می شوند، وقتی که ضدیت های دور و دراز جمع گردیده و حل ناشده باقی ماند در گام نخست از انفجارات، اعتراض سیاسی و یا مناسبات حربی خبر می دهد.

این حادثه عادتاً همچون غیر آشکارا و ناگهانی ارزیابی می گردد. این به طور کلی به تروریزم دخل دارد: دامن وسیع و بی رحمی آن تائثیر ناگوار دارد ولی آنها در اصل مخفی و تصادفی نیستند. تروریزم یک پدیدهٔ قانونمندانه سیاست امروزی جهان بوده به حمایت از جانب این سیاست رهنمود گردیده است.

اما فهمیش از تروریزم ایجاب می کند که به اساسات تحلیلی و سیاسی در این عرصه تجدید نظر صورت گیرد.

حالا تعداد زیادی از تحلیل گران و کارشناسان هنگام تحقیق و مطالعه تروریزم به مسئله از روی «مجموع سبب ها»، که به آنها از جمله عامل اسلامی «داخل کرده می شود» نزدیک می شوند، حالا، آنکه آنها درست می دانند که عامل اسلامی فقط به صفت یکی از اساست تروریزم و فقط در محدودهٔ تحلیلی جزیی نه چندان عمیق بوجود می آید.

و همچنین اسلام بطور غیر مستقیم یکی از عوامل تروریزم به نظر آنها شمرده می شود. یکی از دلایل اش این است که کشورهای رو به انکشاف شرقی، غربی که تقاضای اشتراک خود را در سیاست جهانی می نمایند تا حال به مقصد خود نایل نگردیده اند و محض همین کشورهای مسلمان را مستقیم و یا غیر مستقیم همچو حامی تروریزم انتقاد می کنند. اسلام را تروریستان ایدیالوژی خود قرار می دهند در حمایت شان از تروریزم چنین حدس زده می شود که گویا اسلام عیب دار است.

همین طور نچندان منطقی برخی تحلیل گران در همدستی با تروریزم می خواهد اسلام را بدنام بسازد. نقش بزرگ را در تیره ساختن وضعیت، جدا نکردن تروریزم از حرکات ملی - آزادیخواهانه بازی می کند. گر چندی آنرا عموماً همهٔ کشورهای اسلامی طلب می نمایند. در نتیجه اگر اسلام مستقیم گنهکار کرده نشود. هم در دسته گیری (حمایت) افکار تروریستی شک بر می گردد. ولی لازم است که بطور قطعی اظهار نمایم که اسلام همچو دین مقدس هیچ مناسبت با تروریزم ندارد.

این به همه آنهایی که کم و بیش به اسلام آشنایی دارند روشن می باشد. ولی یک چیزی است که نه در خود تعلیمات اسلام بلکه در روایت آن که به عصرهای اولیه نشأت اسلام نیز ارتباط دارد، نهفته است و آن امکانیت استفاده لازم را به صفت یکی از جنبه های ایدیالوژی تروریزم اجازه می دهند. نشأت اسلام به اوسط نظامی در تمام سرزمین نیم قاره عربستان و فراتر از آن که در دورهٔ اولیه موجودیت اسلام شروع گردیده، حالا در همین دوره ماهیت صلح جویانه این دین تعریف گردیده است و از بسکه دوره تاریخ اسلام ضد تجاوزگری و فساد است، از این رو برای دانشمندان در اسلام جستجو نمودن اساسات تروریزم امروزه فضای آزاد و باز پیدا می کند، اسلام را همچو ادیان دیگری می توان به مقاصد سیاسی، دسیسه جویانه، انحصار قدرت قلمداد کرد ولی چنین استفاده بری به وجدان دسیسه جویان تعلق دارد.

ادامه دارد

زموږ ډرامې او کرکتروه دپخیدو په لاره کې ولاړ دي!

یو وخت ټولو لیکلو او نالیکلو اثارو ته د ادبیاتو نوم ورکول کیده خو وروسته ځیرنو ثابته کړه چې ټول اثار په خپل منځ کې ډلبندي شوي دي او پدي ډلبندي کې ادبیات د یوې جلا ځانګړې په توګه د څیړونکو پاملرنه ځانته واړوله. یعني ټول هغه لیکني او نالیکلي اثار چې د ټولني واقعیتونو ته انعکاس ورکړي په لیدونکو او اوریدونکو باندي اغیز وکړي احساسات او عواطف یې را وپاروي په دغه ډلبندي کې شامليږي ډرامه چې په خپلو دواړو کمیدي او تراژیدي خوا وو سره اوس دغه درنده دنده سرته رسوي خو له بده مرغه چې زموږ په هیواد کې ډرامي د نورو هیوادونو په څیر خپله وظیفه لکه څنګه چې ښایي سرته نه ده رسولی لاتر اوسه پوري له خپلو اوسنیو نیمګړتیاوو څنی وتلی نه ده.

چې دغه نیمګړتیا په سینمایي او ستیج ډرامه کې تلویزیوني او رادیویي ټولو ډرامو کې لیدلای شو له کوم وخت څخه چې زموږ په هیواد کې ډرامه نوي رامنځته او په پښتو وردیدلو ته ځان جوړ کړ له دو ستونزو سره مخامخ وه یو د ډرامي لپاره د لاژم ځای، لباس، وسایلو او کرکترونو نشتوالی او بل د استعماري اهدافو شته والي.

لومړني ستونزی خو کیدای شوي چې د اړوندو مقامانو په زړه سوی او ملی احساس له منځه یووړل شوي وای خو د استعماري اهدافو شته والي ورته د پرمختګ زمینه نه برابروله څکه چې ډرامه په خپل قوت سره کولای شي د کرکترونو په ژبه د ټولني ترمنځ په ټولو ناخوالو ظلمونو او ترخو واقعیتونو باندي رڼا واچوي اولس تري خبر کړي ان چې له ټولنیزو ستونزو او موضوعاتو څخه یو ګام نور هم وړاندی لاړه شی او سیاسی ډګر کې هم ګامونه کیږدي او په سیاسی لحاظ د ټولني په بیداری کې خپله ارزښتناکه ونډه سرته ورسوی همدا وجه وه زموږ په هیواد کې استعمار ګرانو نه غوښتل چې ستیج ډرامی ته انکشاف ورکړی او یا ورته زمینه برابره کړی څکه چې هغوی غوښتل یوازې د راډیو له لارې ډرامه په یوه مړ ژواندی حالت کې حرکت وکړي او تل له سانسور لاندې کنترول شي او لدې لارې کیدای شي چې ډرامې له خپلې ازادۍ څخه وباسي او تر سانسور لاندې یې ونیسي او زموږ په هیواد کې سانسوري حرکاتو او نورو ستونزو وکړای شول چې په هیواد کې ډرامه د پرمختګ په لوری تیزه لاړه نشی وروستیو جګړو هم د ډرامی په وړاندی زیاتی ستونزی رامنځته کړی او خپل خلاص حرکت څخه یې پاتی کړه.

اوس چې په هیواد کې د بیا جوړولو په لوری حرکت پیل شوی او تر زیاتی اندازی د پرون په پرتله ستونزی کمی شوی لاره خلاصه ده وسایل موجود دی ځای موجود دی تخنیکی مشکلات هغومره وجود نه لری خو لاهم زموږ ډرامه د رکود په حال کې ده که چیری همداسی حالات روان وي او ډرامی ته ثوك پاملرنه ونه کړی نو ویلای شو چې زمونږ په ډرامه کې پرمختګ نشی را منځته کیدای اوس د ډرامی د پرمختګ په لاره کې دوه جوتی ستونزی لیدل کیږي یو خو پخپله د ځینو ډرامو موضوع چې زیاتره وخت د غیر مسلکی کسانو له خوا په عجله توګه او یوازی د خپل د پروګرام د ډکولو لپاره لیکل کیږي او بیا پدی کې هم مبتذل او له سترګو لویدلی موضوعات چې د ټولنی په درد نشی خوړل کیدای را اخیستل کیږی اوس خو دپخوا اوپرونی په پرتله زیات لیکوال لرو پدی برخه کې باید تری مرسته وغوښتل شی پدی جنګ ځپلی هیواد کې پدی ناخوالو کې د ژوندانه په هره برخه کې نوی نادر موضوعات شته چې باید مقالی پری ولیکل شی ډرامی پری جوړی شي او نور او نور.

دایوه ستونزه ده بله پخپله د کرکترونو رولونو ډیر مهم دی خو له بده مرغه چې پدی برخه کې نظر نه کیږی او کرکترونه تر اوسه پوری ونه شوه کړای چې خپلی عادی او طبعی حالت را خپل کړی اوله تصنع څخه ځان وباسی زموږ د ډرامو کرکترونو باید د نورو هیوادونه ډرامو ته وګوری او تری یې زده کړی په هغو کې ډرامی او سریالونه څومره په عادی حالت کوی خو زموږ کرکترونه چیغی وهی او غالمغال جوړ کړی وی چې دا کار زموږ د ډرامو او کرکترونو د پرمختګ لاره نیسی.

شخصی تلویزیونو نه او رادیوګانی هم خو په تیره بیا ملی رادیو او تلویزیون باید خپلو د غو نیمګړتیاوو ته متوجی اوسی چې په ډرامو او سینمایی فلمونو کې د کرکترونو خپلی طبعی حالت حرکت ته متوجی اوسی او پدی هڅه کې شی چې مونږ د نوری نړی په شان په یو رکودی حالت کې پاتی نه شو او له تصنعی حالت څخه ځان وباسو تراژیدی او کمیدی درامی خپل اصول او لاره لری خو لکه څنګه چې لیدل کیږی زموږ بریاوی پدی برخه کې کمې دی دا چې مونږ د خپلی ملی تلویزیون او رادیو ډرامو او کرکترونو ته د انتقاد ګوته ږدو دا لدی امله چې تر شخصی زیات د هیواد والو هیله همدغه ملی خپرونو ته ده او د دوی په بریا کې خپله بریا ګوری.

متصدي: سباوون

د بیا رغاونې په لور

افغاني غالۍ باید د هیواد په نوم صادري شي

د بلخ ولایت په مرکز د مزار شریف په ښار کې د غالیو د اوبدنې په یو کورني کارځای کې څلورتنه میرمنې د یوې شپږ متره غالۍ پر اوبدلو بوختې دي. دوی څکه د ورځې ۱۵ساعته غالۍ اوبي چې د کورنۍ له مشرانو سره د خپل کور د اقتصادي اړتیاوو په برابرولو کې مرسته وکړي. میرمن چهره ددوی له ډلې څخه ده.

نوموړې وایي چې ډېره ستونزمنه دنده پرمخ بیایي اغلې چهره وایي غالۍ اوبي خو پیسې یې ددوی لاس ته نه ورځي.

«همدلته یې اوبدو خو پیسې او ګټه یې موږ ته نه رارسیږي. یوه شپږ متري غالۍ په څلور یا پنځه میاشتو کې اوبدو. څلور پنځه یا شپږ تنه په کې کار کوي. د دې پیسې مخکې له مخکې اخلو او د کور اړتیاوې پرې برابرو.»

چهرې وویل «زموږ د نارینه وو اقتصادي حالت ډېر خراب دی. دا پیسې زموږ خوراکي اړتیاوې هم نه پوره کوي.»

ددې کارځای په غالۍ اوبدونکو کې ماشومانې هم دي. ۱۱ کلنه نصیبه وایي ساعتونه ساعتونه کار کوي او د کار په پای کې یې لاسونه په درد شي نوموړې زیاتوي

«تر غرمې پورې کار کوو. د غرمې له ډوډۍ وروسته بیا پر کار پیل کوو هو: د سړي لاسونه ډېر په دردوي. لاسونه مو زخمي کیږي. د شپې له خوا بیا دوه یا درې ساعته کار کوي

ښاغلی امان وایي «ددوی ژوند دومره خراب دی چې موږ پر څلور متره غالۍ ۱۰۰ ډالره ورکوو پر متر ۲۵ ډالره. دا غالۍ په څلور میاشتو کې د څلور تنو کارکونکو د کار په پایله

چې: هیواد په شمول کې تولیدیږي. د افغاني او پاکستاني سوداګرو له خوا د پاکستان هیواد ته لیږدول کیږي او پاکستان یې بیا جرمني او د ایټالیا هیوادونو ته په خپل نامه لیږدوي

درس وایم مور مې راته وایي چې غالۍ واوبده. که دا کار ونه کړم وهي مې او وایي چې غالۍ واوبده.»

د امان الله په نامه د غالیو د خامو توکو یو سوداګر وایي هغه میرمنې چې غالۍ اوبدي د میاشتې شپږ ډالره

کې اوبدل کیږي. خو په دې شرط چې د شپې تر نهه بجو کار وکړي. تاسو ۲۵ ډالره پر څلورو وویشئ. شپږ ډالره رسیږي. نو هره میرمن په میاشت کې شپږ ډالره کار کوي.»

نوموړی وایي دغه غالۍ

دا چې افغاني سوداګر په یوې غالۍ کې څومره ګټه لري امان الله په دې اړوند وایي

«داسې ده چې ۱۰۰ ډالره یې موږ د اوبدلو لپاره ورکوو. تر پاکستانه پورې یوه غالۍ موږ ته ۱۲۰ ډالره

پر یو رخي تر ډېرځلو او قیچي پورې یې موږ په ۱۴۰ یا ۱۵۰ ډالره خرڅوو په یوه څلور متره غالۍ کې ۲۰ ډالره راته پاتې کیږي

د د سوداګرۍ وزیر هدایت امین ارسلا د وزیرانو د حساب ورکولو په اونۍ کې خبریالانو ته وویل چې په داسې لارو چارو فکر کوي چې د هیواد غالۍ خپله د افغان دولت له خوا نړیوالو بازارونو ته وړاندې شي. په دې وروستیو کې له مزار شریف څخه یو سیمه ییز سوداګر یو کانټینر غالۍ د ایټالیا هیواد ته د پلورنې لپاره ورسولې.

ویل کیږي چې دغه غالۍ د جوزجان په ولایت کې تولید شوې وې. د سیمه ییز سوداګر دا ګام ډېر وستایل شو. خو دا چې افغاني غالۍ اوبدونکې میرمنې به څه ډول د خپل کار او زیار ګټه تر لاسه کړي؟

په مزار شریف کې د کاز او تولینیزو چارو د ریاست چارواکي دولت ته وړاندیز کوي چې دغه ډول میرمنو ته دې د پور د ورکړې اسانتیاوې برابرې کړي له یوې خوا به ددوی ستونزې اواري شي او له بلې خوا به د غالیو د تولید کچه په هیواد کې اوچته شي

راغلي لیک

دارادې ورځپاڼې محترمې ادارې ته!

زموږ زیات سلامونه ومنئ ږا چې دارادې ورځپاڼه یوه ملي ورځپاڼه ده په هیڅ سیاسي ګوند، قوم، سمت تړلې پورې اړه نه لري او تل یې بې طرفانه لیکنې کړې دي او تل یې په خپلو انتقادونو او پیشنهادونو کې ملي ګټې په پام کې نیولې دي او خپل انتقادونه یې دمطبوعاتو له پالیسي سره سم وړاندې کړې دي نو زه هم په دغې ملي ورځپاڼې له لارې هیوادوالو او په ځانګړې توګه مسوولو چارواکو ته وړاندې کوم.

زموږ دهیواد او پاکستان ترمنځ یوه نه منل شوې برید موجود دی زه یوازې ننګرهار کې د تورخم په ارتباط غږیږم. دتورخم نه نیولې تر ګنداو پورې یو خط موجود وچې دپلوځې سیمه په دغه کرښه پرته وه پاکستان څو څو ځلې غوښتل چې له ګنداو څخه را تیر شي. خو په تیرو وختونو کې افغان دولت یې مخه نیوله وه خو د څلورو کلونو په موده کې پاکستان له نوموړي خط څخه دیخوا مومندو ته دبیلابیلو ژمنو په ورکولو سره دهغوی موافقه ترلاسه کړه او رانږیدې شول له ګنداو څخه یې پوخ سرک راپیل او له کوډاخیلو مومندو څه هم را تیر شو په کوډاخیلو کې یې هم بیرغه ودرولو پخې پوستې یې جوړې کړې اوس دلته داسې اوازه داه چې هغوی غواړې ورو ورو د کټر دسیند دې غاړې ته سیمې په خپله ولکه کې راولي دا کار ددې لپاره کوي چې افغان هیواد په راتلونکي کې اونه کړای شي ددغه سیند په غاړه باندې دبریښنا ډیمونه جوړ کړي.

اوس چې افغانستان له بهر څخه څه مرستې هم ترلاسه کوي او ورسره له بهر څخه بریښنا راولي مثلاً هرات ته دبریښنا راوستل چې همدا اوس پرې بنده کړی ده کندز ته هم له بهر څخه بریښنا راغلې ده جلال آباد کې هم خلک په تیاره کې ناست وي د داودخان په وخت د کنړ دسیند له پاسه دبند دجوړولو طرحه په پلان کې نیول شوې وه چې د کنړ سیندبه دګمبرۍ له دښتې څخه درونتې کاسې ته راواړوی او دکابل سیندد وړې ګلې له لارې ککړک ته چې دسرخ رود اړونده سیمه ده واوړی په دې ډول به دکابل سیند سرخ رود، چپرهار، شینوارو او ډیرو نورو سیمو ته او به ورکړی دکنړ او کابل په سیندونو به څو ډیمونه جوړ شي او ټوله هیواد ته به بریښنا ورکړی له دې لیک څخه مې هدف دادی چې زموږ چارواکي باید په خپل هیواد کې دبریښنا دډیمونو دجوړولو لپاره پروګرام ونیسي او بله دا چې دبهرنیو دوراندې مخه ونیول شي نو زموږ مشران باید ملي احساس پیدا کړي دبریښنا د تولیدلپاره باید په خپل هیواد کې کاروکړي او دنورو له احتیاج باید موږ خلاص کړي.

له کوډاخیلو مومندو څخه

احمد ګلاب

په بیا جوړولو کې څه ته اولیت ورکړل شي؟

دا خو اوس ټول افغانان مني چې افغان هیواد پخپله دافغانانو په لاس خو دبهرنیو په لمسون وران شوی دی او داسې وران شوی چې اوس یې افغانان په خپل لاس د جوړولو توانایي نه لري.

موږ په هیواد کې دمجاهدنیو تر راتګ دمخه دزور په شاوخوا کې دولتي او شخصي لویې او کوچنۍ تولیدي کارخانې درلودې ان چې په شخصي کورونو کې هم کوچنۍ تولیدي کارخانې موجود وې خو کله چې دخپل منځني جګړو لمنه دقدرت دنیولو او ساتلو په خاطر توده شوه ددې کار خانو اکثریت فیصدي غلا او چور شوه ماشینونه یې د افغاني هغو سوداګرو پواسطه ګاونډیو هیوادونو ته ولیږدول شول چې ملي احساس یې کمزوری و دا خو دجګړو خبرې وې دا خو دچوراوغلا خبرې دي چې هره یوه برخه یې زیاتو څېړنو ته اړتیا لري او هوښیاران وایي چې په باید په تیرو پسې ونه ګرزو داوس په شرایطو کې څه کول پکار دي دبیارغاونې کومه برخه تر کار لاندې ونیول شي چې دخلکو لپاره داقتصادي توانایي او سوکالي خوا په زړه پورې کړي ایا سرکونه او که پلازې داستوګنې پروژې او تولیدي تاسیسات او که دورانو ودانیو ترمیم او د رغاونې په نوم رنګول؟

دا هغه پوښتنې دي چې نن سبا دهر هیوادوال سره مطرح دي خو ظاهراً چې ګورو زموږ په هیواد کې دبې کورۍ او بې کارۍ ستونزې دهیوادوالو ژوند را تریخ کړی دی لکه څنګه چې انسان اوبو او خوړو ته اړتیا لري په همدغه اندازه دخوړو او اوبو د پیدا کولو اودژوندانه دنورو اړتیاوو دپیدا کولو لپاره ابادو کورونو امن او کار ته اړتیا لري خو په دې جنګ ځپلې هیواد کې نه کار شته اونه کورونه دبې کورو په واک کې ورکول کیږي.

لازمه دا ده چې دبیا جوړولو په بهیر کې دسرپناه او بې کارۍ ستونزې ختمې کړل شي اود بې کارۍ دپای ته رسولو لپاره باید ددولتي او خصوصي سکتورونونه په ډلبندۍ کې دتولید پروژو دجوړولو لپاره اقدام وکړي لکه چې څه موده دمخه دکابل ښار دقصبې په سیمه کې داستوګنې ښارګوټي افتتاح شو چې په دې کې به د ۳۰۰۰ کورونیو لپاره داستوګنې کورونه په واک کې ورکړل شي دداسې ښارګوټو جوړول که چیرې چې دهر وزارت له خوا وي او یاد نورو پانګوالو له خوا له دولت سره په شریکه جوړ شي د کورونو دستونزو په حل مرسته کولای شي خو پاتې به شي یوازې دبې کارۍ ستونزې چې هغه دتولیدي پروژو له لارې حلیدلای شي خو موږ ګورو چې ددولت په واک دګلبهار فابریکه دبګرامیو فابریکه دجنګلک فابریکې دګذرګاه فابریکه لاتر اوسه پورې ورانې پرتې دي او لاتر اوسه د جوړولو په برخه کې لازم اجراات ترلاس لاندې نه دي نیول شوي. او تر څو پورې چې په هیواد کې تولیدي سکتورونه پیاوړي نشي او خلك له بیکارۍ نه خلاص نشي ویلای شو چې هیواد ته به دسوداګرو پواسطه واردات را روان وي لکه چې پاکستان یوازې زموږ له وارداتو څخه ۱۲۰۰ میلیونه کلداری ګټه کړې ده خو په هماغه اندازه یې زموږ اقتصاد ته هم ټکان ورکړی دی.

دوارداتو زیاتوالی اوس په هیواد کې تولیدي پروژو ته نه پاملرنه او یا خو کمزوري پاملرنه ددې سبب کیږي چې دبهرنۍ سیالۍ سره دخپل کمزوري اقتصاد له امله له سقوط سره مخامخ شي چې موږ یې په هرات کې دخصوصي تولیدي سکتورونو ودریدل ښه بیلګه بللای شي.

اداري فسادونه به کله له منځه ځي

تورپالی

هغه وخت چې په ۱۳۸۱ کال کې د المان په هیواد کې د بن تړون لاسلیك شو د هغه تړون له مخې موقته اداره بیا انتقالی او وروسته په کال ۱۳۸۲ کې لویه جرګه د ملت د استازو په ګډون سره جوړه شو زمونږ کړیدلی اولس د هیواد په ګوټ ګوټ کې دننه او دباندی دغو تحولاتو او نوښتونو ته د هیلی نه په ډکو سترګو کتل خو ډیره موده نه وه تیره شوی چې دغه هیلی او ارزوګانی له خاوری سره خاوری شوی.

هغه هیواد وال چې له هجرت نه بیرته راستانه شوی دی په ډیر بد حالت او ناهیلی سره خپل ژوند په لوږه تنده بې کوری او اوس د ژمی سړو هوا کې تیروی بی‌کاری د دغو خلکو بله ستونزه ده څکه نن سبا پاکستانیانو او ایرانیانو او د نورو هیوادونو خلك

زموږ دخلکو له فزیکی ځواك څخه کار اخیستی دی په دغو ځلورو کلونو کې د مهاجرو په تناسب د د کورونو د نمرو په ویشلو سره هغه هم یو شمیر محدودو مهاجرینو د پاره هیڅ پاملرنه نده شوی. هغه هیواد وال چې د هیواد په دننه کې په ډیری بی وسی شپی سبا کوی یا د افسر اجیر

تیرو ځلورو کلونو کې ولیدل چې ډیر ښه با استعدادو مسلکی او تجربو لرونکو ماهرینو خپل کار له لاسه ورکړ او پر ځای یې د روابطو په اساس خلك وګمارل شول.

بډه اخیسته ، تحفه، سوغات، قلمانه بخششی اوداسی نور دود شوی دی هر څوک

نو خلاصیدل خدای ته معلوم.دولت له خوا نه خلکو ته له ډیری مودی مخکی د ځمکو د ملکیت سند ورکړی شوی دی مګر تر اوسه پوری خلکو خپل ملکیت تر لاسه کړی نه دی کله چې خلك ښار والی ته مراجعه کوی نو ورته ویل کیږی ځمکه استملاك شوی نده نه

کې معلومه نده نور خلك ددغو تشو ژمنو ستړی شوی دی حقیقت دادی چې نن سبا زمونږ مومن اوغیرتی ملت نور د قدرتمندانو اوزورمندانو په تشو خبرونه غولیږی او خپل غږ او غوښتنی د ولایتی او ولسی شوراګانو استازو ته رسوی هغوی چنې نه غواړی په دغه حقیقت ځان پود کړی او زمونږ د میړنی ملت مخی ته د دریدو هوس کوي پخپله به له خواری او ذلت شرم او رسوایی سره مخ وي.

یا د مامور په توګه خپلو خلکو او هیواد په چوپړ بوخت وو د یوی لو یا د بلی پلمی په نامه تنقیض تقاعد او خپلی دندی یې له لاسه ورکړی.

څو ځلی دولت ژمنه کړی ده چې مونږ یوه سالمه اداره جوړوو او کار به اهل کار ته وسپارو پدی برخه کې چټك ګامونه پورته کوو خو مونږ په

چې د یو عادی کار لپاره یوی اداری ته مراجعه کوی نو باید یو شی د ځانه سره ولری او کنه مامور ،محرر، مدیر او کاتب په دی لړ معاش د هغه د کار اجراء ته په هیڅ ډول چمتوالی نه ښی اوس خلك یو بل ته وایي چې خدای دی ډاکتر او دولت ته کار مه بندوه که یو کرت دی کار بند شو

پوهیږم نقشه دکاغذ پرمخ جوړه اونور کارونه یې پاتی دی .

د زور څښتنان په پردیو ملکیتونو خیټه اچوی قانونی یا د محکمی څارنوالی فیصلی څوك نه منی ښاروالی او د ښار جوړولو وزارت ژمنه کړی چې خلك به د بی کوری نه وژغوری مګر دا چې کله څومره موده

هغه کسان چې زمونږ د خلکو په سرنوشت لوبی کوی د خپلو ناروا عملونو جزا به د تاریخ په وړاندی ووینی او زمونږ د غمیدلی او دردیدلی اولس د کرکی نفرت قهر او غوصی په اور کې به سوځی او په پای کې له زیات ذلت او رسوایي پرته نور هیڅ هم نشی تر لاسه کولای.

نامه وارده

به اداره محترم روزنامه اراده

امیدواریم که این نامه ما را که مشکل اهالی میباشد نشر نمایند تا مسوولین مربوط در حل ان اقدام نمایند.

دو دهه جنگ در کشور عزیز ما افغانستان هزارها معلول و معیوب هزارها شهید ویرانی فقر، گرسنگی از خود بجا گذاشته است بعد از انکه رژیم سیاه طالبان سقوط داده شد و گلیم جنگ و اشوب از کشور بر چیده شد مردم ما از امدن صلح در سراسر کشور اسقبال گرم و با شکوه نمودند در انتخابات ریاست جمهوری و انتخابات پارلمانی سهم فعال و شایسته گرفتن و رفته رفته ، در تجلیل از نخستین اجلاس پارلمان کشور قرار داریم و مردم نیز از پارلمان کشور توقعات زیادی دارند که به خواست مردم خویش پاسخ متبت ارایه بدارند در این اواخر طوریکه به مشاهده میرسد خلاف تمام توقعات ، مقتضیات و مقررات نظامی پرواز طیارات قوای حافظ صلح بالای محلات مسکونی با ارتفاع کم صورت می گیرد. که این خود فضای وحشت ، ترس و دلهره را در بین مردم ایجاد مینماید شما خود فکر کنید کسیکه اگر به تکلیف قلبی یا خانمی اگر حامله باشد و یا اینکه اطفال خورسال شاگردان مکاتب که با این صدا ها کاملاً اشنایی ندارند مواجه میشود چه حالتی به انها رخ خواهد داد چنانچه رخ داده است من چندین تن را که فعلاً به تکلیف گرفتار شده اند سراغ دارم ایا پرواز بالای محلات مسکونی طبق تعلیمات پرواز اجازه است ایا کسی است که پرسان کند که چرا این قدر طیارات F-16 پائین پرواز می کنند اگر در ممالک خود شان بالای محلات مسکونی پرواز اجراء کنند بالای شان کدام جزا تطبیق خواهد شد ایا این جا مردم نیست ایا این جا بشر و حقوق بشر نیست؟ باید پرواز های تعلیمی و مشق و تمرین های نظامی در محلات غیر مسکونی صورت بگیرد در جاهایکه مردم از انها متضرر نگردند.

خصوصاً طیارات که مافوق سرعت صوت میباشد و فرسا ژرا میزنند که صدا و سرعت طیاره را چند برابر میسازد با این عمل تمام حقوق مردم را اوشان در نظر نگرفته و مردم از این عمل ایشان بالاخره به ستوه امده به سازمان ملل متحد قوماندانی ایساف پارلمان کشور جویای باز خواست قانونی خواهد شد ما ضمن اینکه از کمک های جهانی در تامین صلح، بازسازی اظهار سپاس و قدر دانی مینمایم اکیداً ارزومندیم تا در محلات مسکونی پرواز های پست را انجام ندهند تا باشد مردم ما خواب راحت و در فضایی مملو از صلح زنده گی خود را سپری نمایند.

با احترام

ارسالی احمد شاکر

مقامات برکنار شده...

وی این افراد را به څارنوالی معرفی کرده است وی افزود که افراد برکنار شده ولسوال های چمتال و دولت اباد فرمانده پولیس څارنوال، مدیر اداری و یک مقام محلی این ولایت هستند حبیب الله قادری وزیر مبارزه، با مواد مخدر در پاسخ به این سوال که ایا در قانون مبارزه با مواد مخدر افغانستان کدام ماده یی برای مجازات این افراد وجود دارد میگوید: یک ماده ما داریم که همکاری با قاچاقبر یا غفلت در وظیفه این خودش یک خیانت است که اگر ثبوت شود که واقعاً همین کار را کرده باشند این ها مجرم شناخته میشود. یوسف استانکزی سخنگوی وزارت امور داخله کشور با تائید این خبر میگوید که تحقیقات از نزد این افراد ادامه دارد که بعد ازتکمیل شدن باز جویی انان را به مراجع قضایی می سپارند.

اردوی بریتانیا...

در تحولی دیگر، دولت آمریکا اعلام داشته است که هیاتی را به منظور مشورت با مقامات هلندی به این کشور اعزام می کند قرار است پارلمان هلند لایحه اعزام صدها تن از نفرات اردوی این کشور برای مشارکت در نیروهای ناتو در افغانستان را مورد مذاکره قرار دهد. در صورت تصویب این لایحه، واحدهای هلندی در اجرای برنامه ناتو برای افزایش حضور خود در افغانستان مشارکت خواهند داشت.

همزمان، شورای امنیت سازمان ملل متحده حملات تروریستی اخیر در افغانستان را به شدت محکوم کرده است.

در کنفرانس لندن...

این گرد همایی که 4 سال پس از موافقنامه بن برگذار میگردد روی یک مرحله جدید در رابطه باتقویت دولت افغانستان انکشاف برنامه های صلح ثبات و رفاه عمومی مردم افغانستان عمل مینماید این توافقنامه چارچوب جدیدی را برای همکاری جامعه بین المللی در خلال پنج سال اینده تشریح مینماید هدف عمده این کنفرانس اقدام به معاهده افغانستان است که میتواند باعث تقویت و پیشبرد موفقیت های چهار سال گذشته تشخیص اهداف که میتواند افغانستان را در تامین هر بیشتر نیازهای ان در عرصه های امنیت حاکمیت و انکشاف کمک نماید گفته میشود به میز بانی دولت انگلستان تقاضای برگذاری این کنفرانس از سوی حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان پذیرفته شده است

په سپین بولدك...

د رپورټونو ترمخه مظاهره چیانو مړ دې وي پا کستان القاعده او د طالبان ضد شعارونه ورکول. دوي غوښتنه کوله چې باید په دغه لویه کې ملکي افرادو ته زیان ونه رسول شي

راپورونه وايي چې له برید نه وروسته د سپین بولدک په ښار ګوټي کې بازار تړل شوی او هم د پرون د ورځي په لومړیو کې د یو څه وخت لپاره په سپین بولدک کې د افغانستان او پا کستان تر منځ پوله تړل شوي وه،

خو د ورځي په اوږدو کي د دواړو غاړو د چارواکو تر منځ له خبرو وروسته دغه لاره بیرته پرنستل شوه .

د سپین بولدک له ځانمرګي برید نه یو څو ساعته وړاندې خبریالانو سره د خبرو په مهال ولس مشر حامد کرزي ویلي وو چې په افغانستان کي په نږدې شلو ځانمرګي بریدونو کي چې پدې وروستو څو میاشتو کي تر سره شوي زیات یې د بهر نیانو له لوري تر سره شوي او زیاته کړې یې وه چې دا کسان په نورو هېوادونو کې روزل شوي دي .

په پکتیکا کې د...

او ځیني بیا رغول شوی دی دنوموړی ولایت والی ښاغلی ګلاب منګل وایی چې په دې ولایت کې ډیر داسې ښوونځي شته چې بیخی ودانی او سرپناه نه لري چې زده کوونکی دباران اوګرمی په موسمونو کې غیر رسمی رخصت وي. اوس مهال په دې ولایت کې د سلو په شاوخوا کې ښوونځي شته چې ډیر یې هلکانو لپاره دی او د جنکو ښوونځیو ته چا خاص پام نه دی کړی.

په هرات کې د مخدره...

چې دوه کسه یې په داسې حال کې نیولي چې 75 کیلو ګرامه افین په پراډو دوله موټر کې پټ کړی وو او هغه یې دهرات د دروازې میر داود سیمې له لارې ایران ته وړل. دهرات دامنیی قوماندانی مسوولینو ویلی چې په تیره یوه میاشت کې یې 500 کیلو ګرامه مخدره توکې یې نیولی چې قاچاق کوونکی دغور ، بادغیس او هلمند له ولایتونو څخه دهرات له لارې دایران او ترکمنستان هیوادونو ته وړل.

د مالیې وزیر...

احدی وویل چې دتوکیو او برلین په کنفرانسونو کې له افغانستان سره د جاپان لخوا وعده شوې مرستې دپای ته رسیدو په حال کې دی هغه هیله څرګنده کړه چې جاپان به هیواته بیا رغاونې کې پراخه ونډه واخلی نوموړې به ددغه سفر په ترڅ کې دکویت او اماراتو له چارواکو سره وګوري.

دزدان مسلح دو...

حاجی عبدالرحیم یکی از وابستگان فرد زخمی شده ادعا میکند که افراد مسلح ناشناس بعد از متوقف ساختن موتر حامل پنج تن از تجار ولایت قندهار در مربوطات ولسوالی ادرسکن هرات بسوی ان ها تیر اندازی کردند که در نتیجه دو تن از مسافرین مجروح شدند او گفت دزدان مسلح یکمقدار پول و موتر را نیز با خود ربوده اند.

اراده

زیرنظر هیات تحریر انتشار میابند اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد

مدیر مسوول: سهراب دیدار

آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)

تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

ERADA Daily

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"

چاپ :مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)

Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)

eradadaily@hotmail.com

قیمت یك شماره ۳ افغانی